مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین
+

۲۰۲۴/۰۵/۰۴

پښتو ژباړه: رحمت آريا

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال
# شپږم توک

۳۷۵ مه پرله پسي برخه

کابل

او د افغانستان سويل – ختيځ

ايديت:

ډاکټر لودويگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**سنگِ ماشه:** ۸ – ۳۳، ۲۷ – ۶۷ „الف“ دا د ارغنداب په درې کې يوه دښته ده. په دې نوم يو کلی په ۱۵ – ۳۳، ۷ – ۶۷ „ج“ کې موقعيت لري. لودويگ آدمک

**سنگِ ميخ:** دا په تخت کې يوه مشهوره غرنۍ ځوکه ده.

* **سنگين:** ۲ – ۳۴، ۲۵ – ۶۸ „ن“: دا د ميدان په ولايت کې د „کتاگي غر“ [1] په شمال لويديځ کې، د „بلاغ/ بولاغ“ [2] کلي ته نږدې يو کلی دی.

**سنگينه**: وگورئ: کوټگي و سنگينه: [3]: په دې نوم کلی په ۱۴ – ۳۴، ۲۰ – ۷۰ „ج“ کې موقعيت لري. لودويگ آدمک

**سنگِ ناک:** دا يو آسانه کوتل دی چې د کابل- هزاره جات – دولت يار سرک وربانديې تېرېږي.

* **سنگينک:** ۳۵ – ۳۴، ۳۵ – ۶۷ „ن“: دا د باميانو په ولايت کې د بابا دغرهٔ په سويل کې او „قاش“ [4] ته نږدې د هلمند د سيند د يوې څانگې په اوږدو کې يو کلی دی. په دې نوم نور ځايونه :د غزني په ولايت کې د „بندِ دو آب“ [5] په

1 -Katagai Ghar
2 -Bulagh
3 -SANGINA See KOTGAI -O- SANGINA



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سویل او ږگرمک‹ [6] ته نېــږدې په ۵ – ۳۴، ۵۴ – ۶۷ ږن‹ کې؛ د بامیان په ولایت کې د ږبومِ یخک‹ [7] د یوې څانګې په اوږدو کې په ۲۹ – ۳۴، ۲۴ – ۶۷ ږن‹ کې؛ د پروان په ولایت کې د ږقول خش‹ [8] د یوې څانګې په اوږدو کې په ۴۷ – ۳۴، ۲۴ – ۶۸ ږن‹ کې موقعیت لري. ږلودویګ آدمک›

**سنګِ نوشته:** دا د کابل د سویل په ۵ مایلی کې یوه تنګه دره ده چې د تقریباً ۱ مایل لپاره مخ پر سویل غځېدلي او د چارآسیا په دښتي کې راوځي. د همدې تــنګي درې له منځه د لوګر سیند مخ پر شمال رابهېــږي. د درې په دواړو غاړو کې ګړنګونه دي؛ کله چې سر فریدریک رابرتس د ۱۸۷۹ز کال د اکتوبر په میاشت کې د کابل پر لور پرمختګ کاوهٔ نو دغـهٔ ځای نوموړي ته د چار آسیا په عملیاتو کې مهمه مهم جغرافیوي ټکی جوړ کړ.

په ۱۹۰۴ز کال کې د همدې تـنګي درې یا تــنګي په سر کې د لوګر د سیند له پاسه یو پل جوړ سو. ږای. بي. سي›

**سنګِ نوشته:** وګورئ: بولوله

**سنګینیه:** [9]: ــ۳۴، ــ ۶۸: دا د اونی د کوتل په شمال لویدیځ کې یو ټیټ کوتل دی چې د کابل- بامیان سړک وربانديې تـېــرېــږي؛ د اونی د کوتل د شمال لویدیځ په تقریباً ۴ مایلی کې پروت د «جوقول» له کوچني کلي څخه دا سړک د جوقول د درې لیرې اړخ ته تېـرېــږي؛ وروسته له دې ځایه په ږکوتلِ آب و بند‹ [10] باندې خپــرېږي ږدا کوتل دې د ګردن دیوال په سویل لویدیځ کې له بل کوتل سره چې هغه هم په همدې نوم یادېــږي مغالطه نـهٔ سي›، سړک په ۴/۳ – ۳ مایل کې د کوتل سر ته رسېــږي. کوزېدل د یو نیم فرلانګ په اوږد والـهٔ دي او آسانه دي. ږیو فرلانګ د یوهٔ مایل یو پر اتمه برخه کـېـږي - ژ›. وروسته سړک پر یوې نالي ورځي چې ۲۰۰ یارډه ارته ده ؛ سړک له دې ځایه تــېــرېــږي، په دې پسې د یوهٔ فرلانګ په اوږدوالي د سنګینیه کوتل ته چې نرم لوړوالی لري ورخپــږي. له همدې ځایه سړک د نیم مایل په واټن په آسانی سره کوزېــږي او په یوې ډېــرې تنګې درې ورننوځي چې تقریباً ۱۰ یارډه ارتـه ده او شاو خوا ئـې لوړ ګړنګونه ولاړ دي. له ۲ مایلو وروسته سړک له دې تــنګي درې نور وځي او د یوهٔ آسانـه ګودر له لارې د هلمند له سیند څخه تــېــرېــږي. د ګردن دیوال سرای د سیند ورهاخوا واقع دی. ږمحمد اکبر خان›

**یادونه:** یورته یاد سوي واټنونه ښایي د ۲ مایلو په اندازې لږ محاسبه سوي وي.

**سنګ سرای:** ۲۴ – ۳۴، ۳۸ – ۷۰ ږالف‹: دا د جلال آباد د ولسوالي د کامې په علاقه داری کې یو لوی کلی دی؛ دا کلی د کابل د سیند په کیڼې غاړې کې د سیند په ښۍ غاړې کې د الي بوغان/ علي بوغان د شمال ختیځ په ۵ مایلی کې واقع دی. ږونلیس› اوسنی نقشې د ږسنګر سرای‹ نوم ښیي.

**سنګِ شانده:** [11]: ۱۵ – ۳۴، ۴۳ – ۶۷ : دا د بهسودو په سویل کې یوه لویه دښته ده.

---

[4] -Qash
[5] -Band -i-Doab
[6] -Garmak
[7] -Bum-i-Yakhak
[8] -Qol -i -Khesh
[9] -SANGINIA
[10] -Kotal -i- Aboband
[11] -SANG -I- SHANDA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

**سنګِ شانده**: ۱۵ ـ ۳۴، ۴۳ ـ ۶۷ : دا د بهسودو د سيمي يوه کوچنۍ علاقه ده. همدا شان په دې نوم يو کلی په ۱۵ ـ ۳۴، ۴۳ ـ ۶۷ "ن" کې موقعيت لري. په دې نوم يو بل کلی په ۲ ـ ۳۳، ۳۰ ـ ۶۷ "ن" کې موقعيت لري. (لودويګ آدمک)

**سنګِ شانده**: دا د بهسودو په سيمي کې يوه دره ده چې د اوبو د کوزيدلو مخه ئې ختيځ لور ته ده.

**سنګِ سولاخ:** [12]: سنګِ سوراخ ـ ژ: دا د "يخ ولنګ" [13] د ولسوالي د "زري" [14] په علاقه داری کې يو کوچنی کلی دی. دا کلی د "خواجه داد تکانه يانو" [15] ۱۵ کورونه لري. (ميتلند)

**سنګِ سولاخ:** سنګِ سوراخ - ژ: دا د هزاره ګانو په سيمي کې د يوهٔ ځای نوم دی.

**سنګِ سولاخ:** سنګِ سوراخ ـ ژ: ـ ۳۳، ـ ۶۹: دا د لوګر په درې کې يوه کوچنۍ کلا ده چې د "پاتکاو/پاتخاو شانه" [16] د سويل په نېږدې ۷ مايلۍ کې د "آچه خان" [17] په شمال کې موقعيت لري. په کلا کې دننه د احمدزيو يوازې ځلور يا پينځه کورونه دي خو په پسرلي کې دا کلا د شپږو اونيو لپاره د هغو کوچيانو په ځانګړې توګه د "ګبر منګلو" [18] لپاره د استراحت او راحت غوره ځای وي چې له زرمت څخه دلته راځي، دوی له ځان سره خپل اوښان او پسونه د پيولو لپاره راوړي. دلته د رنو اوبو يوه چينه سته چې د غرهٔ له ډډې څخه راوځي او د کال په ټولو فصلونو کې پريمانه اوبـهٔ برابروي. (آی. بي.سي)

**سنګِ سوراخ**: ۲۸ ـ ۳۴، ۳۲ ـ ۶۸ «ن»: دا يو تګاو دی چې مخ پر سويل د کرمان پر درې راکوز سوی دی او د «کوماغي» [19] د کلي په يو مايلۍ کې د کرمان له درې سره يو ځای کـېـږي. دا تګاو په خپلې خولـهٔ کې يوازې ۵۰ يارډه ارت دی؛ ۴/۱ مايله پورته دا تګاو مخ خلاصی کـېـږي او د تقريباً د ۳۰۰ يارډ مربع په ارتوالي يو چمن جوړوي چې فوق العاده عالي پوونده لري. دلته د کوچنيو بوټو په بڼه کې د اوښانو د څرلو لپاره پريمانه پووندي سته چې څڅ [20] «يو ډول اغزن بوټي» ته ورته دی چې د «خار سفيد» [21] په نوم يادېـږي. له دې تګاو څخه يوه لاره تـېـرېـږي او «سياخاګي» [22] ته نېـږدې د باميانو له سړک سره يو ځای کـېـږي. (ونليس) همدا شان په دې نوم يو کلی په پورتـني موقعيت کې واقع دی. (لودويګ آدمک)

12 -SANG -I- SULAKH
13 -Yakh Walang
14 -Zari
15 -Khwajadad Takanas
16 -Patkao -i- Shahana
17 -Aucha Khan
18 -Gabar Mangals
19 -Komaghai village
20 -thistle,
21 -Khar -Safed
22 -Siakkhagi


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

* **سنگ طاووس**: [23]: ۵۹ – ۳۴، ۵۵ – ۶۷ «ن»: دا د باميانو په ولايت کې په «شکاري درې» [24] کې د «کنگور» [25] په ختيځ کې يو کلی دی.

**سنگِ زرد**: ۳۵ – ۳۴، ۲ – ۶۶ «الف»: دا د «سرِ جنگل» [26] په درې کې يو کلی دی چې له دولت يار ۱۷ مايله پورته موقعيت لري.

**سنگلاخ** :۳۲- ۳۴، ۴۰ – ۶۸ «الف»: ويل سوي چې د سنگلاخ د غرنی لړی مبداء د باباد غرۀ او د هندوکش د لړيو د يو ځای کيدني تکي ته نېـږدې ده، دا په حقيقت کې د هندوکش يو ښاخ دی چې پراتــۀ ئـې په عام ډول سويل لويديځ لور ته دی او د کابل د سيند بستر د هلمند د سيند له بستر څخه جلا کوي. دا لړی د افغانستان د جغرافيې په فزيکي جوړښت کې ځکه زښته ډيره ډېـره د اهميت وړ لړی ده چې سپين غر او په پای کې د سليمان غرونه هم د هندوکش له لړی سره نښلوي او دا په خپل وار، د منځنی آسيا د لوړو سطحو يو ښاخ دی چې د پاميرونو په نوم پېـژندل کـېـږي.

د سنگلاخ غرنی لړی په مجردې چې د هندوکش لړی شاته پرېـږدې بلافاصله يو ډېـر مهم مهميز له ځانه راباسي چې د پغمان د غرنی لړی په نوم يادېـږي، دا لړی مخ پر شمال غځيدلې او د پنجشير د سيند د ښانگو، د غوربند او شکر درې ترمنځ، اوب پللونکی يا آب ريز جوړوي. دا لړی د کابل په شمال کې د کوهدامن پر دښتې راسپره ده او په ختيځو ډډو کې ئـې د امير دوبنی مانۍ واقع ده. دا لړی د پارسا، «کچان» [27] د ۱۲۰۰۰ فيټو په لوړوالي، ستالف او سنجد له کوتلونو او همداشان له نورو کوتلونو څخه چې د کوچني اهميت لرونکي دي په تقاطع تـېـرېـږي. د دې لړی تر ټولو لوړه څوکه د «تختِ توركمن» [28] په نوم يادېـږي چې لوړوالی ئـې تر ۱۵۴۴۷ فيټو پورې رسېـږي. د خاص سنگلاخ غرنی لړی يوازې د اونی تر کوتل پورې راغلې ده، او د اونی له کوتل څخه په تـېـريدلو ځان په دوه وو ښانگو بـېـلوي چې ويل سوي په لوميريو کې مخ پر ختيځ او لويديځ پر مخ ځغلي. سنگلاخ د خپلې مبداء او د اونی د کوتل د ټکيو تر منځ کوم مهم کوتل نـۀ لري يوازينی د يادولو وړ کوتل «کوتلِ باغر» [29] دی چې د اونی د کوتل د شمال په قريب۶ مايلی کې واقع دی، دا کوتل سره له دې چې په ځينو ځينو ځايونو کې خپل سختوالی لري چې په يو استوي ليک آس سپارۀ ورباندې په سختې تللی سي خو د دې ارزښت لري چې د اونی د کوتل پر ځای وکارول سوي. د کوتلِ باغر لوړوالی ۱۱۰۰۰ فيټه دی. د اونی د کوتل په سويل کې موږ د پورته يادو شويو ښانگو په منځ کې لويديځه ښانگه ونيوله، دا ښانگه په لوميريو کې د «بلندي قاش» [30] په نوم

---

[23] -SANG- I -TAWUS
[24] -Shikari Dara
[25] -Kangur
[26] -Sar- i- Jangal valley
[27] -Parsa, Kachan
[28] -Takht -i Turkoman
[29] -Kotal-i-Baghar
[30] -Buland -i -Kash


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ

یادېږي او په همدې توګه سويل – لويديځ لور ته غځيدلي ځانګه ئې د „باد آسيا‟ [31] دښته له „کج آو‟ [32] تګاو ښخه جلا کوي. او له دې ځايه وروسته د „کوهٔ دامان‟ [33] تر نوم لاندې د „سرخ سنګ‟ [34] تر کوتل پورې مخ پر لويديځ تر هغهٔ ځايه غځيدلې چې د غزني – باميان سړک وربانديې تېرسي. دا لړی همدلته خپله مخه سويل ختيځ ته تاووي او د لوګر د سيند د سر تر اوبلارو راتاوېږي او د لوګر د سيند بستر د غزني د سيند له بستر ښخه جلا کوي او ځان د کابل- غزني تر سړک پورې رسوي ؛ دلته د ۸۵۰۰ فيټو په لوړوالي د „شير دهان‟ [35] کوتل ورښخه تېرېږي. له دې ځايه وروسته دا لړی د ۳۰ مايلو لپاره مخ پر ختيځ د التيمور تر کوتل پورې چې ۹۶۰۰ فيټه لوړوالی لري غځيدلی ده او له همدې ځايه وروسته دا لړی د „مچلغو‟ [36] د غرونو په نوم يادېږي، له مچلغو وروسته دا لړی مخه شمال ختيځ ته د „شترګردن‟ [37] تر کوتل پورې تاووي او په دې توګه د „سليمان د غرني سيستم‟ [38] د اتصال کړی بشپړوي.

اوس د اونی د کوتل په سويل کې د اساسي لړی د ويش ټکي ته بيرته راګرځو؛ ختيځه ځانګه چې په دريم پاراګراف کې ياده سوه په عام ډول مخ پر سويل ختيځ غځيدلې چې د ۲۵ مايلو په واټن د «خوات» [39] د سيند او د کابل د سيند د بر سر تر منځ اوب يلوونکی جوړوي. له همدې ځانګې ښخه د کابل – کندهار د عمومي سړک په اوږدو کې د «بيني بادام» [40] له کلي بلافاصله پورته له «تاوه/ تاوا کوتل» [41] تېرېږي او په يوې غرنی ښوکې پای مومي چې لوړوالی ئې ۱۳۰۶۷ فيټه دی. د اونی د کوتل په سويل ختيځ کې په تقريباً پينځلسم مايل کې دا لړی له ځانه يو مهم مهميز راباسي چې د «صد مردا/ صد مرده» [42] د لړی په نوم يادېږي او ختيځ ته د انحنا يا کوږوالي په موندلو سره د کابل د سيند بر سر د کابل د سيند له ځانګې «پاينده خيل نرخ» [43] ښخه جلا کوي او د دواړو سيندونو د يو ځای کيدنې په لويديځ کې په يوې غرنی ښوکې پای مومي چې د «کوهٔ بيګ» [44] په نوم يادېږي؛ د کوهٔ بيګ د غرنی ښوکي لوړوالی ۱۰۱۸۴ فيټه دی. همدلته په شمالي ډډو کې د سپينو مرومرو کان دی او له همدې ځايه د کابل د ورکشاپونو لپاره سپين مرمر را ايستل کېږي. (آی. بي. سي)

---

31 -Badasia plain
32 -Kajao tagao
33 -Koh -i- Daman
34 -Surkh Sang kotal
35 -Sher Dahan kotal
36 -Machalgu hills
37 -Shutar Gardan pass
38 -Sulaiman mountain system
39 -Khawat
40 -Tawa Kotal
41 -Beni Badam
42 -Sadmarda range
43 -Painda Khel Nirkh
44 -Koh -i -Beg


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

* **سنګلاخ**: ۴۹ – ۳۴، ۶ – ۶۹ ن: دا د کابل په ولایت کې د «محلې» [45] په سویل کې او د ستالف د ختیځ په څو مایلۍ کې یو کلی دی.

**سنګلاخ دره**: ۲۹ – ۳۴، ۳۷ – ۶۸: دا د کابل د سیند یوه څانګه ده چې د سنګلاخ له غرنۍ لړۍ څخه سرچینه اخلي. مخ پر سویل – سویل لویدیځ بهیږي، او د ۲۰ مایلو د واټن له وهلو وروسته په « جلریز» [46] کې د کابل له سیند سره یو ځای کېږي. د سیندونو د یو ځای کیدنې له ټکي بلافاصله پورته د دې سیند له سره له لرګیو جوړ یو پل تېر سوی دی چې ۲۰ فیټه اوږد او ۱۲ فیټه پلن دی؛ د کابل – هرات سړک د همدې پلـهٔ له سره تېرېږي. د یو ځای کیدنې په ټکي کې سنګلاخ د کابل د سیند په پرتلې زښتې ډیرې اوبـهٔ لري چې د جولای په میاشت کې د اوبو ارت والی ئـې ۲۰ فیټه او ژوروالی ئـې ۲ فیټه وو. ویل سوي چې د سنګلاخ دره فوق العاده حاصلخیزه ده. (ونلیس)

**سنګ نشانده**: [47]: دا په هزاره جاتو کې یو ځای دی.

**سنګوته**: [48] :–۳۴، – ۶۹: دا د جلال آباد د ولسوالي د حصارک په علاقه دارۍ کې د «مرهز» [49] د سویل لویدیځ په نیږدې نیم مایلۍ کې یو کلی دی. استوګن وګړي: شینوار. (جنکینز)

**سنګپر**: وګوری: خاواک

**سنګره**: [50] : دا ځای ښاغلي لیچ یاد کړی دی چې له جلال آباد څخه تر «کشکر/ قشقار؟» [51] پورې، له جلال آباده ۲۱۶ مایله لیرې د الینګار د سیند په اوږدو کې، ۱۱۴ مایله له قشقار څخه لیرې د واورین کوتل په بلې غاړې کې موقعیت لري او د کافرانو ۶۰۰۰ کورونه په کې دي. (لیچ)

**سنګ سوراخي**: [52]: –۳۴، – ۶۸: دا د هلمند په پورتـنـی درې کې د پغمان د غرنۍ لړۍ په لویدیځ مهمیز کې یو کوتل دی.

**سنګ توده**: – ۳۴، – ۶۹: دا د جګدلک او کټه سنګ تر منځ د سړک په اوږدو کې له جګدلک څخه ۵ مایله لیرې یو ځای دی. دلته د «پري درې» [53] لاره د کابل له سړک سره یو ځای کېږي. د سنګ توده له نوم څخه ښکاري چې دلته پخوا وختونو کې د ډبرو کومه کوټه یا کوم ډبرین هرم وو چې د لارې د نښې په ډول جوړ سوی وو. د دې ځای په ګاونډ کې کوم استوګنځای نـهٔ سته. (تامپسن، یانګ)

---

[45] -Mahala
[46] -Jalrez
[47] -SANG NISHANDEH
[48] -SANGOTA
[49] -Marhez
[50] -SANGRA
[51] -Kashkar
[52] -SANG SURAKHI
[53] -Pari Dara


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**سنگو خیل:** دا د شینوارو یوه علاقه داري ده. په دې نوم یو کلی په ۹ – ۳۴، ۴۹ – ۷۰ "ج" کې موقعیت لري. (لودویگ آدمک)

* **سنګونه**: [54]: ۲۱ – ۳۵، ۳۴ – ۶۹ "ن": دا د کاپیسا په ولایت کې د "زینیا" [55] د سویل لویدیځ په نېږدې ۸ مایلۍ کې د پنجشیر د سیند په اوږدو کې یو کلی دی.

**سنجان:** [56]: ۹ – ۳۵، ۲۲ – ۶۹ "ن": دا د چاریکارو په شمال ختیځ کې دا "دامان" د غرونو په لمن کې یو کلی دی. دې کلي کې د تاجیکانو ۱۵۰ کورونه دي. (شهزاده تیموس)

**سنجد دره:** [57]: دا د کابل د شمال په ۳۰ مایلۍ کې د کابل په کوهدامن کې یو کلی دی. دا کلی د یوهٔ لښتي پر غاړې واقع او ګرد چاپیره ئې بڼونه راتاو دي. د دې کلي خاوره له تېږو او شګو ډکه ده نو ځکه ډېره حاصلخیزه نـهٔ ده او دا د دې لامل کېږي چې دلته تاکونه هیڅ وده ونـهٔ کړي. د میوو په بڼونو کې عموماً د توتو او د چارمغزو ونې دي. (میسن شهزاده تیموس د پغمان د غرنی لړی په دامان کې د سنجد درې د وګړو شمېر د تاجیکانو ۱۰۰۰ کورنۍ ښیي.

**ساو:** [58]: ۱۰ – ۳۵، ۲۸ – ۷۱ "الف" دا د ګندمک د لویدیځ په ۵ مایلۍ کې د سرخاب د سیند د ښي غاړې په اوږدو کې د خوګیانیو په سیمې کې یو کلی دی. د دې کلي استوګن وګړي معروف خیل غلزي دي. (مک نایر)

**ساو:** دا په لغمان کې یو کلی دی او واربرتن وایي چې په ۱۸۸۰ز کال کې د دې کلي استوګن وګړي کوهستانیان "ګوشتانیان- ژ" ول. ویل کېږي چې د دې کلي خلک "نیمچه کافر" [59] دي. (واربرتن، آی. بي. سي) د ژباړونکي یادونه: نیمچه کافر د پخواني کافرستان او اوسني نورستان هغو کسانو ته ویل کېدل چې نوي مسلمان سوي ول)

**ساو:** ۱۰ – ۳۵، ۲۸ – ۷۱ "ن": دا د کونړ د سیند د کیڼې غاړې په اوږدو کې، له "ارنوی" [60] تقریباً ۱۴ مایله او له جلال آباد ۸۹ مایله لیرې یوه کلا او یو کوچنی کلی دی. ظاهراً داسې ښکاري چې دا کلا دې ټینګه کلا وي چې ۸۰ یارډ مربع ارتوالی لري او د دیوالونو لوړوالی ئې ۲۰ فیټه دی او څو برجونه لري. په ساو کې د کونړ د سیند له پاسه یو پل تېر سوی دی؛ د پلـهٔ د منځ لاره یوازې ۳ یا ۴ فیټه لویوالی لري او ډېر زانګي. آسونه او کچرې وربانديې تېریدلای سي خو د اوښانو تېریدل وربانديې ناشوني دي. د ساو په شمال کې پریمانه کرهڼه سوې ده. (آی. بي. سي)

**ساو قد:** [61]: دا د الینګار په درې کې له جلال آباد څخه ۱۳۶ مایله لیرې د قشقار د سړک په اوږدو کې یو کلی دی. ویل کېږي چې دلته د "ونیر بافرانو؟" [62] ۵۰۰۰ کورونه دي. (لیچ) د ونیر بافرانو په نوم زه ژباړونکی پوه نـهٔ سوم

---

54 -SANGUNA
55 -Zenia
56 -SANJAN
57 -SANJIT DARA
58 -SAO
59 -Nimcha Kafirs
60 -Arnawai
61 -SAOKAD
62 "Wanierbafars."


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

خو د شک په حفظ سره دومره ویلای سم چي د دې نوم دوهمه برخه ‹‹بافران›› کیدای سي کافران وي او ښايي ټاپيي تـېـروتنه وي. په خپله لودویگ آدمک هم نـهٔ دی پوه سوی نو ځکه ئـي په قوسينو ‹‹..›› کي نیولی دی.

* **ساو روسو**: [63]: ۲۹ ــ ۳۴، ۲۲ ــ۶۷ ‹‹ن››دا د باميانو په ولايت کي د ‹‹چهار بند ›› [64] په شمال کي، ‹‹ديوال›› [65] ته نېـږدې يو کلی دی.

* **ساو سنګ**: [66] : ۳۱ ــ ۳۴، ۴۴ ــ ۶۷ ‹‹ن››: دا د باميانو په ولايت کي د ‹‹درهٔ زيرتگ›› [67] په اوږدو کي چي د هلمند د سيند يوه څانگه ده د ‹‹کوهٔ سرِ غار›› [68] په سويل کي يو کلی دی.

**ساوسنګ**: [69]: ۴۸ ــ ۳۴، ۸ ــ ۶۹ ‹‹ج››: دا د ستالف د شمال ختيځ په نېـږدې ۴ مايلی کي يو کلی دی.

ويل سوي چي دې کلي کي د ‹‹داؤود زي غلزيو›› نېـږدې ۱۰۰ کورونه دي. د کلي اوبـهٔ د ستالف له نهر او همدا شان له يوه کاريز څخه دي؛ دلته ډېـره کرهنه سوي ده. د دې کلي استوګن وګړي د اوښانو روزونکي دي او تر ډېـره خپل څاروي په کرايه ورکوي. ‹‹آی. بي. سي››

**ساو سنګ**: [70]: دا د جاغوري هزاره په سيمي کي يو ځای دی چي د ‹‹حيدر›› په نوم قومي څانگه په کي استوګنه ده. ‹‹آی.بي. سي.››

**ساو زک**: سوزک: [71]: ــ ۳۵، ــ ۶۹: دا د پغمان د غرنی لړی په دامان کي د چاريکارو د شمال ختيځ په ۲/۱ ــ ۴ مايلی کي يو کوچنی کلی دی. ‹‹میتلند››

**ساوزک**: سوزک: [72]: ۵۳ ــ ۳۴، ۳۹ ــ ۶۷ ‹‹ن››: دا د باميانو په دري کي له ‹‹پلِ فرنگي›› [73] ۱ مايل کوز يو کلی دی چي د بهسودي هزاره گانو ۱۵ کورونه په کي دي. ‹‹صاحبداد خان››

---

63 - SAOROSU : ددې نوم مخي ته ئـي په عربي الفباء ‹‹سورسو›› ليکلي دي. خو ژباړونکي "ساو روسو" ولوستل.

64 -Chaharband

65 -Diwal

66 - SAOSANG : ددې نوم مخي ته ئـي په عربي الفباء ‹‹سوسنگ›› ليکلي دي. خو ژباړونکي "ساو سنگ" ولوستل.

67 -Dara -i- Zirtag

68 -Koh- i- Sar- i -Ghar

69 - SAOSANG : ددې نوم مخي ته ئـي په عربي الفباء ‹‹سوسنگ›› ليکلي دي. خو ژباړونکي "ساو سنگ" ولوستل.

70 - SAOSANG : ددې نوم مخي ته ئـي په عربي الفباء ‹‹سوسنگ›› ليکلي دي. خو ژباړونکي "ساو سنگ" ولوستل.

71 - SAOZAK : ددې نوم مخي ته ئي په عربي الفباء ‹‹سوزک›› ليکلي دي. خو ژباړونکي "ساو زک" ولوستل کيدای سي "سبزک" وي.

72 - SAOZAK : ددې نوم مخي ته ئي په عربي الفباء ‹‹سوزک›› ليکلي دي. خو ژباړونکي "ساو زک" ولوستل کيدای سي "سبزک" وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

**ساو زل:** سوزل: [74]: ـ۳۴، ـ ۶۷ : دا په ,یخ ولنگ, [75] کي د ,تبرغان قول, [76] په ۳ مایلی کي د ۱۵ کورونو یو کلی دی. ,محمد اکبر خان,

**سوز ِ کاه سپي:** [77] : دا د بهسود هزاره گانو یوه فرعي قومي څانگه ده.

* **سپي بوم** : [78]: ۸ – ۳۴، ۱۲ – ۶۷ ,ن, دا د بامیانو په ولایت کي د شاهي په ختیځ کي د هلمند د یوې څانگي په اوږدو کي یو کلی دی.

**څــپــري منگل:** [79]: ۵۵ – ۳۳، ۴۳ – ۶۹ ,ن,: دا په ,هاریوب, [80] کي د علي خیلو د سویل په ۴ مایلی کي او یا د ,کرمانه, [81] له لارې د علي خیلو په نیــږدې ۲/۱ – ۵ مایلی کي یو کلی دی. دا کلی د یوې لوړې سطحي پر مخ ودان سوی دی او د ختلو لاره ئـي په کرمانه کي د هزار درخت د سیند له لارې د یوې ت_نگي اوږدې درې په وسیلې ده؛ دا سیمه د سرو په گڼو ونو پوښلې ده. دا کلی خپل نوم یوهٔ تـنگي او همدا شان یوهٔ کوتل ته ورکوي، دا کوتل ختیځ کي د کورم په درې منتهي کــېــږي، دا کوتل د کتارونو، د سرتــېــرو د لیکو د تگ لپاره چي باروړونکي اوښان ورسره وي مناسب نـهٔ دی. پلي ځواکونه او صحرایي توپونه کولای سي په دې لاره لاړ سي، خو که تـنگی د دښمن په لاس کي وي نو طبیعي جوړښت د سیمي د ځواک پرمختگ سختوي.

د ۱۸۷۸ز کال د دسبمر د میاشتي په دیارلسمي نیټي سر فریدریک رابرتس کله چي له علي خیلو څخه د کورم پر لور مارش کاوهٔ نو د دهٔ د ځواک وروستی برخه د کوتل په سویلي ډډه کي د کوزیدلو پر مهال د ځاځیو او منگل د گډو ځواکونو تر برید لاندې راغله ,د ځاځیو او منگل جنگیالیو په منځ کي د افغان پوځ یو شمــېــر هغه تښتیدلي یا فرار سرتــېــري هم ول چي افغان لښکر د همدې میاشتي په دوهمي نیټي د پیوار په کوتل کي ماته خوړولي وه., په دې برید کي تورن گواد او تورن پاول په مرگونو ټپونو ټپیان سول، د دوی ۳ سپاهیان ووژل سول او د گورکه د پینځم ځواک ۱۱ تنه سرتــېــري ټپیان سول. خو له دې سره سره دښمن په شا وتمبول سو او موږ نه کوم ځاروی او نـهٔ خپل بارونه له لاسه ورکړل. ,کین، آی. بي. سي,

* **سر آب:** سراب: [82]: ۱۱ – ۳۳، ۳۴ – ۶۷ ,ن, دا د غزني په ولایت کي د جاغوري په شمال ختیځ کي په ,ناوهٔ خدایداد, کي یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی په غزني کي ,بلندي, ته نیــږدې په ۳ – ۳۳، ۳۸ – ۶۷ ,ن, کي واقع دی.

---

73 -Pul -i-Faringi

74- SAOZAL : ددې نوم مخي ته ئـي په عربي الفباء «سوزل» لیکلي دي. خو ژباړونکي "ساو زل" ولوستل.

75 -Yakh Walang

76 -Tabarghan Kol

77 -SAOZ -I -KAH SEPAI

78 -SAPIBUM

79 -SAPRI Or TSAPARAY

80 -Hariob

81 -Karmana

82 -SARAB



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

**سراچه**: ۲۲ – ۳۴، ۳۲ – ۷۰ ج: دا د جلال آباد په ولسوالي کې د جلال آباد د ختیځ په ۲/۱ – ۵ مایلی کې یو کلی دی. دې کلي کې د تاجیکانو ۶۰ کورنی استوګنې دي چې په ۱۹۰۴ز کال کې ئې ۱۴۰ کورني څاروي درلودل. په سراچه کې د غنمو او وربشو د کلني حاصل اندازه تقریباً ۳۰۰۰ هندي مونده دی. (ونلیس)

**سرافسر**: [83]: ۷ – ۳۳، ۵۴ – ۶۸ ج: دا د خروټي غلزیو [84] په سیمي کې د کلیو یوه ستره ډله ده چې د اورګون د شمال لویدیځ په نیږدې ۲۲ مایلی او د کوتاوني ناړی [85] د شمال لویدیځ په ۸ مایلی کې واقع ده. دې کلي کې د خروټو او سلیمان خیل غلزیو [86] تقریباً ۸۰۰ کورونه دي. دلته په دې شاو خواوو کې ډیره کرهڼه سوې ده ، دلته اوبهٔ او هر ډول اړتیا توکي پریمانه دي او هم د ترانسپورت اوښان ترلاسه کیدای سي. سر افسر له اورګون څخه ګردیز پورې د لارې په اوږدو کې دوهم منزل دی او له همدې ځایه یوه بله لاره جلا کېږي چې له اورګون څخه تر غزني پورې یوه مستقیمه لاره جوړوي. همدا شان سرافسر د سرافزي، شاه سروف، سرفراز او سروپ شیر [87] په نومونو هم یادېږي. (آی.بي. سي)

**سرافزي**: وګورئ: سر افسر

**سرای**: – ۳۴، – ۶۹: دا د کابل د شمال په تقریباً ۲۰ مایلی کې په کوهدامن کې د شکر درې د سیند په کیڼې غاړې کې یو لوی کلی دی، د دې کلي استوګن وګړي عمدتاً هندوان دي. (میسن)

* **سرای**: ۵۲ – ۳۴، ۴۹ – ۶۹ ن: دا د کاپیسا په ولایت کې د تګاب په ختیځ – شمال ختیځ کې او کنده [88] ته نیږدې یو کلی دی.

**سراج**: ۵۷ – ۳۴، ۴۸ – ۶۹ ج: دا یوه دره ده چې مخ پر سویل راکوزه سوې او له چهاردهي څخه ۱۱ مایله پورته د غوربند له درې سره یو ځای کېږي. له دې درې څخه تر بندِ ورسندان [89] پورې یوه لاره تللې ده خو له دې لارې څخه ډېر لږ ګټه اخیستل کېږي او لږ پېژندل سوې لاره ده. (پیکاک)

**سره کلا** :۵۹ – ۳۳، ۲۵ – ۶۹ ج: دا له ګندمک څخه تر باسول پورې د سړک په اوږدو کې د دمي نیولو ځای دی چې د ګندمک د ختیځ په نیږدې ۲/۱ – ۸ مایلی کې واقع دی. د دې ځای اوبهٔ چې د اوبو له چینو څخه دي پریمانه دي، د اوبو دا چیني لویدیځ لور ته نیم مایل وړاندې په یوې تنګې اوږدې درې کې دي؛ دلته شمال لورته یو مایل وړاندې د ارګاچ [90] او د کجي/ کره [91] او ۲ مایله سویل لور ته د کاګو [92] له کلیو څخه اړتیا توکي او په غټ شمېر اوښان تر لاسه کیدای سي. (آی. بي. سي)

---

[83] -SARAFSAR
[84] -Kharoti Ghilzai
[85] -Kotauni Narai
[86] -Kharoti and Sulaiman Khel Ghilzais
[87] -Sarafzai, Shah Saruf, Sarfaraz and Sarup Sher
[88] -Kunda
[89] -Band-i- Warsandan
[90] -Argach
[91] -Kaja
[92] -Kaggu


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**سر انديا**: [93]: ۱۹ ــ ۳۴، ۵۳ ــ ۶۹ «ج»: دا د سرخاب د سیند په کيڼي غاړې کې د ګندمک د لويديځ په ۸ مايلۍ کې او د سرخ پل د پلـۀ د سويل لويديځ په ۲/۱ ــ ۱ مايلۍ کې يو کلی دی. «آی. بي. سي»

* **سر آو**: [94]: ۱۳ ــ ۳۴، ۵۴ ــ ۶۹ «ن»: دا د ننګرهار په ولايت کې د «جکن» [95] د سويل ختيځ په تقريباً ۳ مايلۍ کې يو کلی دی. په دې نوم يو بل ځای د غزني په ولايت کې د «دشتِ ناور» [96] په شمال کې «آمرو» [97] ته نږدې واقع دی.

نور بيا

**سر آسيا: ـ**۳۴، ـ ۶۹ : دا د کابل د سیند د کيڼي غاړې

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندې د ښاغلي آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

[93] -SARANDIA
[94] -SARAO
[95] -Jakan
[96] -Dasht -i -Nawer
[97] -Amro


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ